مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر ش میره کی ۲۰۲۶/۰۲/۰۲

# د غاښنو کریم حیرانوکي اغیزې

ګرانو دوستانو ! د غاښنو کریم څه کولای شئ؟
د غاښنو د پاکوالي لپاره د غاښنو کریم په استعمال خو هر عام او خاص خلک په خبر دي ، چې کریم هم غاښونهپ اکوي، هم یې له ناروغیو او درده ځخه ساتي. خو له دي به نه یئ خبر چې د غاښنو کریم د مخ داني ختموي، دلا سونو بوي ختموي او نور هغه کارونو کوي چې په اوریدو به یې هک پک شئ.

د غاښنو کریم حیرانونکي اغیزې

د لاسونو بوي ورکوي

د هوږه یا پیاز د پرې کولو وروسته که لاسونه ومینځل شي بیا هم هغه لاسونه بوی کوي او آن تر دې چې صابون همد پیازو او هوږې د بوی په ورکولو زور نه رسیږي، خو که لږه اندازه د غاښنو کریم په لاس باندې وموښل شي او بیاومینځل شي، د لاسونو بوي به ډیر ژر ورسره ورک شي.

زیورات «سره او سپین زر» پاکوي

ددې پر ځای چې د سپینو یا سرو زرو د پاکولو لپاره زرګر ته ورشئ او ډیرې پیسې ورکړئ، لنډ یو کار وکړئ چ ې د غاښنوکریم یو ځل و ازمویئ. بس د غاښنو کریم لږه اندازه د زیوراتو د پاسه ولګوئ، د ګوتو په څوکو یې ومښ ئ او بیا یې پهرخت یعني تکه باندې صاف کړئ، ګورئ چې د غاښنو کریم څه کوي؟!

له دیوالونه رنګونه او خطونه ایسته کوي

ماشومان خو ګلان دي، خو په شوخي کې بیا له چا کم نه دي. ماشومانو د نورو شوخیو سربېره په دیوالو د خطونو لیکلو او رسمونو اچولو ډیر شوقیان وي، چې مېندې یې بیا په صفا کولو کې له ستر چېلینج سره مخ وي. که مېندې دغه خطونه او رسمونه پاکوي نو غاښنو کریم سخت کار ورکوي، بس دومره تکلیف دې وکړي چې د غاښنونو کر یمدې لږ په رخت باندې واچوي او بیا دې داغ شوي ځایونو پرې پاک کړي، په ثانیو کې به ډیر فرق ووینې.

د عینکو پاکول

عینکې د ډیر استعمال سره خیرې نیسي او ناپاکه کیږي، چې د پاکوالي لپاره یې اوبه هم بیا کار نه ورکوي، خو غا ښنوکریم بیا هغه څه چې نور یې له کولو عاجز شي، سرته رسوي. بس لږه اندازه د غاښنو کریم د عینکو په شیشو وا چوئاو په لوند رخت باندې عینکې پاکې کړئ، عینکې به مو نوې جدید شي.

د مخ داني او داغونه ورکوي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

که څه هم ددې اوریدل حیرانوونکي دي خو حقیقت دا ده چې د غاښو کریم استعمال د مخ داني او داغونو پهورکولو کي مهم رول لوبوي. لږه اندازه د غاښو کریم د مخ په هغه برخه چېرې چې داني دي، ولګوئ او بیا یې پاککړئ، تر پاکولو وروسته به د غاښو کریم اثر ډیر ژر وګورئ.

د نوکانو ساتنه کوي

نوکان هم لکه غاښونه ډیرې ساتنې ته اړتیا لري. د غاښو کریم د غاښو سربېره نوکان هم روغ او رمټ ساتي. ک هخپل نوکان هره ورځ د غاښو په کریم ومینځئ نو یو خو به مو نوکان پاک ، سوتره او ځلېدونکي وي او بل پلو به مونوکان ښه ښایسته ، روغ او رمټ وي.

د ماشومانو د بوتلونو بوي ورکوي

د ماشومانو بوتلونه اکثرأ بدبويي پیدا کوي چې دغه بدبويي د ختمولو لپاره د عامو لوښو د صابون او یا نوروکیمیاو ي مواد هم بدبويي نه ورکوي. په داسي حالاتو کي که د غاښو کریم استعمال شي نو کافي ډیره فایده کوي، دغاښو کریم دغه بدبويي ډیره په اسانی سره ورکوي.

د ګیلاسونو پاتې شوي دایروي نښې پاکوي—

یو بل کار چې د غاښو کریم یې په ډیره موثره طریقې سره کوي، هغه د لرګیو یا شیشو د میزونو څخه د یخو اوب و دګیلاسونو او یا هم د چایو د پیالو او نورو څخه پاتې شوې دایروي نښې پاکوي. د ګیلاسونو او پیالو څخه پاتې شوېښو پاکول ډیر ستونزمن وي خو غاښو کریم دا کار بیا ډیر په اسانۍ سره کوي.

د غالی ( قالیني ) او فرشونو داغونو پاکوي

غالی یا قالیني یا فرشونه چې یو ځل داغمن شي بیا یې نو پاکول ډیر ستونزمن وي، خو دا کار هم د غاښونو کریم پهډیره اسانه سره کوي. بس دومره وکړئ چې د غاښو کریم په داغ شوي ځای واچوئ او بیا یې په رومال یا یې په لاسپاک باندې پاک کړئ، د قالیني داغ به مو داسې په اسانۍ سره پاک شي چې تاسو به خپله ورته هک پک شئ.

د شیشو دروازې پاکوي او ځلوي

که مو په کور کي د شیشو دروازې وي نو لیدلي به مو وي چې که لاس پرې ولګیږي، چاپ پرې پاتې کیږي او ژ رخیرنیږي، او بیا بیخي ډیرې زیاتې بدې ښکاري، خو د غاښو کریم پر مټ کولای شي چې شیشې نه یواځې پاکې کړئبلکې داسې یې وځلوئ چې د لیدونکو سترګې بریښ وکړي.

د سوځیدا ارامونکي

که کوم ځای د بدن مو په اور او یا په اوبو سوځیدلی وي کولی شي د غاښ کریم پر ووهي تر څو څه ډاکټر او رو غتونته ځي نو درد به مو ارام کړي .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځیر و لولـئ